رالیږنه او ژباړه: محمد ایاز نوری

لیکونکئ: سردار کبیر الله (سراج)

۲۵/۰۴/۲۰۱۰

## د غازی اعلیحضرت امان الله خان
## د مړینې د پنځوسمې کلیزې په مناسبت

## ۱۹۶۰ – ۲۰۱۰

د خپل ګران او عالیقدر کاکا، خدای بخښلي اعلیحضرت غازي امان الله خان د وفات د پنځوسمي کلیزي په یادونه کي نن غواړم، خپلي خاطري مي چي، د هغه غازی بادشاه څخه د هغوی د ژوند په وخت کی یعنی د ۱۹۵۲ – ۱۹۵۳- ۱۹۵۴ میلادی کلونو په ترڅ کي د ایتالیا هیواد د روم په ښار کي چي، څو واري مي ورسره د خبرو اترو ویاړ لاره، او له ځان سره درج کړي، د محترمو افغانانو د معلوماتو لپاره ته تقدیم کړم.



لومړی پوښتنه: اعلیحضرتا! تاسو ولي د خپل دولت د سقوط څخه پس خپلې خاطرې او ارزونې ونه ليکلې چې، د افغانستان د تاريخ په پاڼو کې درج شوې وای؟

ځواب: ما خپل يادداشتونه او خاطرې ليکلي دي او خپل نوټر ( منشي ) ته مې سپارلي دي چې، سل کاله پس له اوسنی زمان څخه بيا هغه نشر ته ورکړي. ځکه که دا مسايل اوس چاپ ته ورسيږي، زما کور ته مشکله تماميږي او هغه په دې سبب چې، ما او افغانستان ته خايينې څېرې او شخصيتونه همدا اوس ژوندي دي او په افغانستان کې په لوړو دولتي او حکومتي مقامونو لګيا دي کار کوي.

دوهمه پوښتنه: زما پوښتنه د محمد ولي خان (دروازي) په باب ده.هغه نادری حکومت تاسو ته د خيانت په جرم د اعدام په فيصله کې راوستلئ وه. او بيا يې وواژه.تاسو په دې مسله کې څه فرمايش لرئ؟

ځواب: محمد ولي خان چې، زما د دولت د شاهي مقام وکيل وه، هيڅ وخت ماته خيانت نه دئ کړئ. ما دغه موضوع د افغان د وخت حکومت او بادشاه نادر خان ته هم ورپه ګوته کړې وه چې، که زما په مقابل کې، د خاينانو محاکمه صورت نيسي، لومړئ تاسو د دولت اصلي کسان خاينان ياست، چې حکومت او بادشاهي مو زما په نوم تر لاسه کړله او بيا مو ما سره څه وکړل...!؟. بر سيره پر دې که محمد ولي خان ماته خاين وای، ما به خپله لور د هغه زوی ته په نکاح نه کولای، چې اوس له هغه وصال څخه يو لمسئ په نوم دې محمد اکليل خان لرم. محمد ولي خان او د غلام نبي خان (څرخي) ګران فاميل هيڅکله ماته خاين نه ول.

دريمه پوښتنه: افغانستان ستاسو د بادشاهۍ په دور کې ستاسو د پروګرام پر اساس ښه پر مختګ وکړ. تاسو پيسي او د دغو پروګرامونو اړونده لګښت له کومه تر لاسه کاوه؟

ځواب: دا د افغانستان په تاريخ کې لومړئ ځل وه، چې هيواد په ځان بسيا او له کورنيو عايداتو څخه يې خپلې اړتياوې پوره کولې. ځکه هغه پيسي، چې زما څخه پخوا افغان حکومتونو له انګريزي استعمار څخه تر لاسه کولې، زما پر دولت يې بندې کړلې، او نورو قوي هيوادو افغانستان سره دومره نژدې اړيکې نه درلودې، چې د پيسو مرسته وکړي.

څلورمه پوښتنه: آيا تاسو د خلکو د تبصرو پر بنا د خپلې بادشاهی پر وخت تاسو د افغان پوځ تجهيز او عسکر ته پاملرنه نه لرله؟

ځواب: پس له لنډې موسکاء څخه... اعليحضرت وفرمايل: بر خلاف... ما عسکر ته پاملرنه لرله. ما د خپلې بادشاهۍ په پيل کې د اردو د بهترې روزنې لپاره تکړه ښوونکي د ترکيې او جرمنې د هيوادو څخه وګمارل. له هغه پيل څخه تر نن پورې د دې دوو ملکونو فني کسان د افغان اردو په روزنه بوخت دي، او د دغو دوو هيوادو مرسته د تحسين وړ ده. ما ضربتي قوه او نمونوي قطعات په اردو کې د لوړ معاش په ورکولو د کورنې بغاوتونو د مهار لپاره رامنځ ته کړل. زه په دې باور وم، چې د کورنې خطر لپاره همدا کچه کفايت کوي او د بهرنې يرغل د دفع لپاره نړئ ته څرګنده ده، چې د افغانستان ټول خلک عسکر او مجاهد دي او د بهرنې د ځپلو لپاره په معرکه کې ګډون کوي. زه د افغانانو په دې خصوصيت واقف وم. په خپل وروستي اروپايي سفر کې ما نوی وسله د جرمنې، پولند، ايتاليا او د فرانسې د هيوادو څخه وپلورله او په ضمن کې مې حتی د نظامی بم غورځوونکو الوتکو فرمايش هم ورکړ. ما تل ويل: افغانستان پس له دې بايد د پوهې پر قوه پر مختګ وکړي، نه د توري او ټوپک پر زور...!؟.دا زما شعار وه. د افغانانو د ژوند د منظمولو لپاره مې ګڼ شمير قوانين رامنځ ته کړل. لکه د ښځو، حقه حقونه، د برکې يا چادری لرې کول او نور... .په دې زمان کې به مې د يوې نظام نامې سواد له ځانه سره واخيست او په يوازې توګه به مې د ښپو تر ناوخته پورې د ارګ په غولي کې قدم وهلو او د افغانستان د وګړو د خير او فلاح لپاره به مې د هغه قانون په غوره شکل د تصويبيدو فکر کولو.

پنځمه پوښتنه: اعليحضرت! د هيواد د اصلاح لپاره مو څه رنګ پروګرامونه تر لاس لاندې لرل؟

ځواب: لومړی مې بايد خلکو ته ليک او لوست وربښودلئ وای. د معارف سيستم مې بايد په هر اړخيز ډول تقويه کړای وای. ما پخپله د اکابر (ليک او لوست) په کورسونو کې د معلم په حيث سبق ورکاوه. زما ښځې ثريا جانې او زما خوابنې هم عينې دنده د افغان ښځينو سره پرغاړه لرله. ګڼ شمير ښوونځي مې په پلازمينه او د هيواد په ولايتونو کې رامنځ ته کړل. د جرمنې، فرانسې او هندوستان څخه ښوونکي کابل ته راوبلل، تر څو اړونده ښوونځيو ته تدريس پيل کړي، چې دا پلان د امانيه او اماني او د حبيبې په ليسو کې عملا تطبيق کيده. يو شمير افغاني زده کوونکي مې د لوړو زده کړو په هدف د فرانسې، جرمنې، ايتاليا او ترکيې هيوادونو ته ولېږل. يو شمير افغان نجونې د تحصيل لپاره د ترکيې هيواد ته واستول شوې. او هم دغه کسان دي، چې نن په افغانستان کې د ښه خدمتونو سبب شوي دي.

شپږمه پوښتنه: د اروپا له سفر څخه مو څه په لاس راوړل؟

ځواب: لومړی مې افغانستان نړی ته اضافه او په ښه ډول ورمعرفي کړ او زمونږ هيواد يو نړيوال اعتبار پيدا کړ. غښتلي اروپايي هيوادونه دې ته حاضر شول، چې مناسب پورونه د افغانستان د ترقۍ لپاره په مختلفو ځانګو کې راکړي. په دې ارتباط ما يو شمير فابريکې لکه، د قند جوړلو، ټوکران او د کاغذ د توليد وپيرودلې. د دغو فابريکو د پکار اچولو لپاره يو شمير فني ځوانان د جرمنې او فرانسې د هيوادونو څخه پخپله حاضر شول، چې د افغانستان تابعيت قبول او افغانستان ته راشي، چې افغاني فني کارګران وروزي. له دې چې، دغو کارګرانو ته د استوګنې

ځای یوه معضله وه، بنا ما د کابل د دارالامان د ښار د دریمي کارتي سمیه ورته د نویو ډول کورونو د جوړېدو لپاره وټاکله.
ما د مرکزیت څخه په نه مرکزیت زیاد باور درلود. ما پلان لاره، چي راغلي فابریکي د هیواد په مختلفو ولایتونو کي ځای پر ځای کړم. هدف دا وه، چي د هیواد په هره سیمه کي زما وطنوال د کار او روزګار خاوندان شي. له هغو اخستل شویو فابریکو څخه یو شمیر یې لکه، د قند جوړلو، توکران جوړلو او کاغذ زما د بادشاهئ په وخت هیواد ته راورسیدلي، اما په افسوس سره ډېرئ شمیر د دي فابریکو د برتانوي هند د کراچي په بندر کي په انتظار پاتي شولي، چي د وخت افغان دولت او ظالم محمد هاشم خان دغه ټول لوازم له یوي مخي له منځه یوړل. دا ځکه چي، دا اسباب ما پیرودلي ول او د هغوی په فکر افغانستان ته په رارسیدو به بیا د امان الله خان نوم د خلکو په ذهن کي راژوندئ شوای وای...؟!. لیکن دا فابریکي خو د افغانستان د ملت شتمني وه، نه زما شخصي شتمني...؟!.
په هر حال،ګرانو هیوادوالو! ویل او زما خاطري د اماني دورې او د هغي ویاړمن زمان او د هغه د ډېر با شرفه او رښتني خدمتګار اعلیحضرت مرحوم غازي امان الله خان، چي زه د وراره توب ښه قسمتي او فخر لرم، ډېري دي او دا حاضره لیکنه زما یوه لنډه بیلګه وه، چي ما په هغو ذکر شویو کلنو کي په مخامخ لیدنو کي د هغه لوی انسان سره لرلي، چي علاقمندانو ته مي تقدیم کړې. د دې عرایضو په ضمن کي ټولو افغان وطنوالو ته توصیه کوم، چي د خپل ملي قهرمان غازی اعلیحضرت امان الله خان په باب د نویو او ارزښتمندو معلوماتو لپاره دغو سرچینو لکه، سفر های اعلیحضرت امان الله خان به اروپا، مولف یې مرحوم عزیز الدین وکیلی (پوپلزایي)، افغانستان در عهد اعلیحضرت امان الله خان، مولف یې فضل غنی (مجددي)، په انګریزي لیکل شویې د غازی اعلیحضرت په باب کتاب، مولف یې سنځله (نوید)، چي دا کتاب بیا محمد نعیم مجددي په ښه صورت سره په دری ژبه ژباړلئ دئ. او وروستئ کتاب چي، برګ سبز از تاریخ معاصر افغانستان، سفر های اعلیحضرت امان الله خان غازی به اروپا چي، ژباړونکئ یې عزیز الله (مرموز) نومیري، په غور سره مطالعه کړي.
د دي کلام په پای کي :
درود او دعا لېږم د افغانستان د استقلال د اتل د افغانستان د محبوب او ګران پخواني بادشاه اعلیحضرت غازي امان الله خان روح ته،

مړه او نابوده دي وي د افغانستان دښمنان او په انګریز او روسیه باندي خرڅ شوي افغانان

په درنښت سره
کبیر الله (سراج)
۲۵ اپریل ۲۰۱۰
د امریکا متحده ایالات